مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۶/۲۳

# غزل

## چې دا وران وطن مو جوړ شي چمنونه جوړوم

انځورګر یمه په کرښو تصویرونه جوړوم

د قلـــم ، کاغذ پـه متو مثالــونــه جوړوم

د ژوندون رنګونه اخلم د ښکلا په لټون ګرځم

د دې ښار په خاموشۍ کې مست سازونه جوړوم

تورخزان سره په جنګ کې لاستومانه نه یم ګوره

پـه جرګـو او مـرکـو بـه تاریخونـه جوړوم

له دې درده نه جوړیږم د خندا نه خبر نه شوم

بس د اوښکو لـه دانـو نـه امیلونـه جوړوم

د جوړښت لاره همدا ده پسرلیه پرې روان شه

چې داوران وطن مو جوړشي چمنونه جوړوم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com